مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

مصطفی پسرلی
۲۰۱۹/۰۵/۰۲

# غزل

**د کوم منزل په لور روان یمه زه**
**وازې تنۍ، ځیرې ګریوان یمه زه**

**مخ مې خړ، پړ تورو لوګو وهلی**
**د بل د جنګ د سر عنوان یمه زه**

**جنګ د پردو مو راوړ خپل کاله ته**
**بریت تاوه وم چې ښکه خوان یمه زه**

**اوس مې د مینې کور تالا والا دی**
**د ورور د مینې په ارمان یمه زه**

**شپه، ورځ مزل کوو. منزل نه لرو**
**ستړی په تلو هسې کاروان یمه زه**

**لکه ږانده د غلو په لور روان یو**
**بې رهنما او بې ښاروان یمه زه**

مصطفی پسرلی
30/04/2019


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ